شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۱۵۷ ګڼه / پنجشنبه ۲۲ رمضان‌المبارک ۱٤٤٤ هـ.ق / ۲۴ حمل ۱۴۰۲ هـ.ش / ۱۳ اپریل ۲۰۲۳ میلادي

## د ملګرو ملتونو د وروستۍ اعلامیې په هکله د اسلامي امارت د ویاند څرګندونې

شـریعت: اسـلامي امـارت پـه افغانستان کې د ملګرو ملتونو دفتر له لوري وروستۍ خپرې شـوې اعلامیې ته غبرګون څرګند کړ. د اسـلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد د یوې خبرپاڼې په خپرولو سـره ویلي چې (په افغانستان کې د ملګـرو ملتونـو دفتـر اعلامیه نشـر کړې، چې اسـلامي امارت پـه ښـځینه کارکوونکـو ځینـې محدودیتونـه وضـع کـړي چې لـه کبله یـې ملګـرو ملتونو خپل فعالیتونـه ځنډولـي او د بشـري وضعیت د ټولو عواقبو مسـئول یې اسلامي امارت بللی دی).

خبرپاڼـه کـې زیاته شـوې، چې (اسـلامي امارت نه غواړي، چې ملګرو ملتونو تـه خنډونه رامنځته کـړي؛ بلکې واضح کـول غواړي چـې دا د افغانسـتان یـوه کورنۍ ارزښـتي موضوع ده، چې بل چاته هیڅ نوع ستونزه نه جوړوي او باید ټول لوري ورته درناوی وکړي).

ذبیح الله مجاهد... ۵مخ

### فیصله کابینه امارت اسلامی:

## ادارات می‌توانند متقاعدینی که توانایی انجام کار را داشته باشند استخدام نمایند

شـریعت: در نشسـت کابینۀ امارت اسـلامی فیصله گردید که تمـام ارگان‌هـای امارتی می‌توانند آنعده متقاعدینی را که توانایی انجـام کار را دارند، به طور باالمقطع استخدام نمایند.

ریاست عمومی اداره امور روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت: ۳۰ مین نشسـت کابینۀ امارت اسـلامی به ریاست الحاج ملا محمد حسـن آخند برگزار و روی آجندا بحث شد.



در این نشسـت طـرح ترتیب شـده از جانب وزارت شهداء و معلولین در مورد کمک‌های نقدی ماهانه به معلولین، بیوه‌ها و یتیمان تائید گردید.

همچنـان فیصلـه گردید که حقوق تقاعد و معلولیت معاش شـمرده نمی‌شـود، امـا تمام ارگان‌هـای امارتـی می‌توانند آنعده متقاعدینی را که توانایی انجـام کار را دارنـد، به طور باالمقطـع و معلولین را بگونه رسمی استخدام نمایند.

در نشست مذکور، به کمیسیون اقتصادی وظیفه سـپرده شـد تـا موضـوع اعـلان تطبیق سروی‌های جیوفزیکی ص۵

### وزیر امور خارجه:

## جهان باید نسبت به پیشرفت‌ها در افغانستان واقع بین باشد



شریعت: سرپرست وزارت امور خارجه در دیدار با سفیر جاپان در کابـل، گفت منطقه و جهان باید در زمینـه تحولات مثبت واقع بین باشند.

دفتر مطبوعاتـی وزارت امور خارجه روز گذشـت با نشـر خبرنامه‌یی گفـت: مولوی امیر خان متقی سرپرست ۵مخ

## افغانستان او ترکمنستان به د ستنډرډ په برخه کې د همکارۍ یو تړون لاسلیک کړي

شریعت: د سـتنډرډ ملي اداري مسـوولینو، پـرون (۲۳ وری ۱۴۰۲) د حکومـت د اطلاعاتو او رسـنیو پـه مرکـز کـې د یوه خبـري کنفرانـس پـر مهال، د یادې ادارې د ۱۴۰۱ مالي کال د کړنو او فعالیتونو راپور له رسـنیو سره، شریک کړ. ۵مخ





## ننګرهار کې د نفرایټ ډبرو کان د استخراج چارې پیلیږي

د ننګرهـار ولایت د نفرایټ کان د داوطلبۍ په لړ کـې یو خصوصي شـرکت في تـن د دریـو میلیونو افغانیو پـه ورانديز سـره ګټونکی شوی دی.

د کانونـو او پټرولیم وزارت وایي، چـې دغه لړۍ په رڼه توګه ترسـره شوې او دولسو شرکتونو... ۵مخ



## کابل کې د نویو پیلېدونکو پروژو لپاره شرکتونو ته پیسې ورکړل شوې

د کلیـو بیارغونـې او پراختیـا وزارت پـه همـکارۍ، د کابل ولایت د کلیو بیارغونې او پراختیا ریاست تر نظارت او چتر لاندې د UNICEF اداري په مالي ملاتړ د یاد ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې د نویو تړون شـویو پروژو د کار د پیل لپاره ۳ میلیونه او ۱۹۰ زره افغانۍ ورکړل شوې.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د معلوماتو له مخې؛ دغه پروژې د کابل په چهارآسـیاب، کلکان، پغمان، فرزه، استالف او ده سبز ولسوالیو پراختیایي شوراګانو ته وسپارل شوې، چې ډېر ژر به یې چارې پیل شي.

پـه دغو پروژو کـې د پاکو اوبو د ترلاسـه کولو لپاره د څاه ګانو کیندل او پـه روغتیایي مرکزونو کـې د اړتیـا پر اسـاس د نویو مبرزونو جوړول شامل دي.

## کابل کې د یو میلیون ډالرو په ارزښت د چرګانو یو فارم جوړ شوی

په کابل کې د یوه افغان پانګوال او یوې بهرنۍ موسسـې په همکارۍ د څه بانـدې یو میلیـون ډالرو په ارزښـت په شـل جریبه ځمکه د چرګانـو فارم جوړ کـړی او نږدې ۳۰ کسـانو ته یې د کار زمینه پکې برابره کـړې ده. په دغه فارم کې پر یوه وخت ۶۰ زره ... ۵مخ



## سرپل کې یو سړک ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

شریعت: د سـرپل ولایت په مرکز د ۸ میلیونـو او ۵۰۰ زره افغانیو په لګښـت پر یوه سـړک د کانکرېټ اچولـو چـارې بشـپړې او ګټـې اخیستنې ته وسپارل شو.

د سرپل ښـاروالۍ مسوولین وایي، چـې دغـه سـړک د ۵۰۰ مترو په اوږدوالـي جوړ شـوی، چې پرمټ یې د تـګ راتګ پـر وړاندې ګنې آسانتیاوې رامنځته شوې دي.

ورتـه مهال د دغه ښـار یو شـمېر اوسـېدونکي او دوکاندارانو د یادې ښاروالۍ کارونه ستایي او دې ته د ورته نورو پروژو د پلي کولو غوښتنه کوي. د مسوولینو په وینا، دغه سړک د ښـاروالۍ له بودجې څخه رغول شوی دی.

غوره اخلاق د انساني ژوند بنسټ جوړوي! ص۲

روژه د عزت میاشت ده! ۵ مخ

د کوچني اختر فلسفه، احکام او آداب ۵ مخ

### سرمقاله

## د ولس ستونزو ته رسیدنه د مسؤلینو اساسي دنده ده!

افغـان مؤمن او باتور ملت یو فطرتي مسـلمان ملت دی چې د اسلامي نظام لپاره یې خپل سرونه نذرانه او د میلیونونو شهیدانو د قربانیـو په پایله کې یې پرله پسي د دریـو نړیوالو زبرځواکونو څخه استقلال او آزادي ترلاسـه کړې دغه قربانۍ له کوم داخلي او بهرني فشار پرته پخپله خوښـه او جذبه افغانانو ورکړې نو له دغـه قربانیو او پر لـه پسي د نړیوالو اشـغالګرو په مقابل کې د ځلورو لسـیزو جهاد او مبارزه د دې څرګندونه کوي چې افغانان فطرتي مؤمنان دي د دنیا هر اسـتعماري ځواک چې د فرعونیت درجې ته رسـیدلی په افغان میړني ملـت خپل زور ازمایلی او په وړانـدې یې افغانان په تش لاس د معرکې او مقابلې ډګر ته وتلي په متین هوډ او کلکه عقیده یې د استعمارچیانو د فولادي ټانکونو او طیارو په وړاندې خپلې سـینې سپر کړې او د دوی د مظبوطې ارادې اونه سـتړې کیدونکې مقاومت په پایلـه کې له شرمیدلې ماتې سره مخامخ شـوي دي اوس چې په افغانستان کې اسلامي امـارت واک ته رسـیدلی نو پـه کار ده چې د اسـلامي امارت مسـؤلین د ولس سـتونزې واورې او د هوارې په لارو چارویې عملي اقدامـات وکړې د بیلګې په توګـه تعلیم د ولس حق دی او اسـانتیاوې برابرول ورته د چاروواکو مکلفیـت او دنده ده بې روزګارو ته د کار زمینه برابرول د حکومت مسـؤلیت دی چې په داسې اسـاسي پروژو کار پیل کړې چې له یوې خوا په اقتصادي پیاوړتیا کې مهم رول ولرې او له بلې خوا بې روزګاره... ۵مخ

## هرات کې د ښځو له خوا د لاسي صنایعو اختریز بازار جوړ شوی



د کوچنـي اختر د را نـږدې کېدو په درشـل کې په هرات کې ځینو سـوداګرو ښـځو د خپلو لاسـي صنایعـو د پلور لپـاره د «اختریز بازار» په نوم ځانګـړی بازار جوړ کړی دی. دغه ښځې هیله‌منې دي چې د دغه بازار له جوړېدو سره به خلک د کورنیـو تولیداتو پیرلو ته وهڅوي. ورته ... ۵مخ

## صدها خانواده در حومۀ کابل از انرژی برق بهره‌مند گردیدند

شـریعت: بـا نصـب یـک ترانسـفارمر در ولسوالی استالف کابـل، ۲۳۴ خانه از انرژی برق مستفید گردیدند.

شرکت برشـنا روز گذشته با نشر خبرنامه‌یـی گفت کـه کار نصب یک ترانسـفارمر به ظرفیت ۳۱۵ کیلووات در ولسـوالی اسـتالف کابـل، از سـوی رهبـری ایـن شـرکت تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شده است.

در خبرنامه آمده اسـت که با بهره برداری از این ترانسفارمر، ۲۳۴ خانواده از انرژی برق مسـتفیده شده و به ده‌ها مشـترک دیگر نیز برق وصل خواهد شد.

## کابل ښار څخه ګرځنده موټر وینځونکي راټولېږي



د کابل ښـاروالۍ له دغه ښار څخه د سـړکونو او لښـتیو د تخریـب د مخنیوي پـه موخه ګرځنـده موټر وینځونکي د راټولو خبر ورکړی دی.

دغه ښاروالۍ پرون د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې یو شمېر کسـانو په ناقانونه توګه د سـړک تر غـاړو د موټـرو وینځلـو ګرځنده ماشینونه فعال کړي، چې... ۵مخ

## مسوولان در پکتیکا مانع غصب ۴۰ جریب زمین گردیدند

شـریعت: مسـوولان ریاست زراعـت، آبیـاری و مالداری پکتیـکا می‌گوینـد، کـه از غصب چهـل جریب زمین در ولسـوالی‌های یحیاخیل و خیر کوت آن ولایت... ص۵



# ایجاد انگیزه در محیط دفتری، به حیث اندیشه کلان

عبدالهادی قریشی

**انگیزه چیست!**

انگیزه به معنای سبب، علت برانگیختن، به حرکت آوردن، و اداره کردن و تهیج و به هیجان آوردن است.

یا: انگیزه آنست که هرچه میگویید و یا انجام میدهید از احساسات درونی و خواسته های شما سرچشمه می گیرد و یا انگیزه ازنگاه اداره و منجمنت یا به اصطلاح به حیث یک اندیشه کلان عبارت از وسعت باور کردن کارمند «مامور...» به آنچه که انجام میدهد، است.

یا: انگیزه یک عامل درونی است که بطور کلی موجود زنده را به حرکت در می آورد.

انگیزه از نگاه عملی شدن به سه بخش تقسیم گردیده است:

- انگیزه اولیه.
- انگیزه های اجتماعی
- انگیزه نگرش به آینده.

تشریح مختصر! در بخش انگیزهٔ نخستین، مثلاً حالات گرسنگی تشنگی، نیازهای جسمی و بدنی که اکثراً مسایل حیاتی را در برمی‌گیرد.

ثانیاً، مثلاً عطش و یا تمایل شدید و علاقهٔ فراوان جهت کسب علم و دانش کسب قدرت شهرت طلبی به شهرت رسیدن، انگیزه پیشرفت در زندگی اجتماعی، اقتصادی و تجارتی، بالآخره انگیزه مطرح شدن در قدرت دولتی و مطرح شدن در سیاست، کسب شخصیت و تحفظ شخصیت و یا انکشاف شخصیت و شخصیت یابی در اجتماع یا به طور مثبت و اصولی آن و یا مطابق به خواهشات شخصی چون جاه طلبی...

همچنان بعضاً به شکل مثبت و اجتماعی و اصولی آن، چون داشتن انگیزهٔ حل منازعات به شکل جرگه ها، و قانون مداری و...

یادداشت! این حرف باید مشعر یک وجیزهٔ باشد که: به هراندازهٔ که انگیزهٔ پیشرفت بیشتر باشد موفقیت نیز به همان اندازه خواهد بود.اما سعی و تلاش در کار است و در عرصه های مختلف گسترش خواهد نمود.

لذا- علت بوجود آمدن انگیزهٔ پیشرفت اینست، که به چنین انگیزه، خانواده اجتماع و جامعه و نیازهای اجتماعی به آن ارج می گذارد و ارزش قایل است و خانواده ها نیز برای فرزندان شان که به دنبال پیشرفت هستند، ارزش قایل می‌شوند.

برای افزایش انگیزه چه باید کرد؟

برای افزایش و پیدایش انگیزه باید به طور درست و عملی آن حرکت به خرج داد چون: ۱- اهداف مشخص داشتن خود را با ارزش دانستن در همه عرصه های خوب زندگی اشتراک کردن سلامتی خود را توجه کردن، با افراد دوستی نگهداشتن برای امور اهداف درست تعیین کردن حسب پلان عمل نمودن، و خوشنود بودن به گذشته ها زیاد فکر نکردن به مستقبل خوب اندیشیدن هنر مدیریت در خانه و در اداره را فراگرفتن، تجارت خوب را عملی ساختن از تلقینات گرفته تا به نصایح و بالآخره تحسین کردن ولی بعضاً توبیخ کردن.

انگیزه نیروی درونی انسان را تقویه می کند و انسان را به اجرای یک کار و امیدارد. حتا بی تفاوتی را از بین می برد و بالآخره یک مامور و یک مدیر خوب، یک محصل خوب پوهنتون و یک اولاد خوب یک خانواده لایق و شایسته را بسار می آورد.

انگیزهٔ خوب و تلقینات بالاتر باید در حصه حب الوطن و وطندوستی و مورال بلند و مبارزه علیه فسادها، غاصبین، و دشمنان و فعالیت های ستون پنجم وجنگ های نیابتی مبارزهٔ بی دریغ انجام داد. و یک محیط خوب کاری را مساعد نمود.



# غوره اخلاق د انساني ژوند بنسټ جوړوي!

شاه محمود درویش




مسلمانانو ورونو او د پاک الله «ج» رښتینو بنده ګانو! له شک پرته دا یو رښتینې، انکارنه منوونکې او روښانه واقعیت دی چې غوره اخلاق د انساني ژوند بنسټ جوړوي، پردې اساس د انساني ټولنې هر وګړي ته ښایي چې په هراړخیزه توګه ځان د غوره او ښوو اخلاقو پر ګاڼه سمبال کړي، لکه څنګه چې د اسلام ستر پیغمبر جناب حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دلوړو او سپېڅلو اخلاقو خاوند و او د هغه جناب د اخلاقو په اړه قرآنکریم فرمایي:

ژباړه: ای پیغمبره! یقیناً ته د لوړو اخلاقو درلودونکې یې. بناً مونږ چې د هغه ستر پیغمبر اومتیان یو باید تل د هغه په نقش قدم باندی ولاړ شو او دهغه د لوړو او سپېڅلو اخلاقو پیروي وکړو، له شک پرته چې اخلاق په انساني نفس که هغه فطري(طبیعي) قوه ده چې په ډېره اسانۍ سره ښه یا بد عملونه ورڅخه صادرېږي که ښه عملونه ورڅخه صادر شي د ښو اخلاقو او که بد عملونه ور څخه صادر شي د بد خوی په نامه یادېږي، لکه څنګه چې دحضرت محمد(ص) په یوه حدیث شریف کې ګناهونو ته ناوړه اخلاق(بدخویونه) ویل شوي دي او ورڅخه معلومېږي چې د انسان په فطرت(طبیعت) کې دا توان شته چې ښه عملونه یا بد عملونه وکړي. اسلامي شریعت دا څرګنده کړی ده چې د اسلامی فرایضو ادا کول او له ګناهونو څخه ځان ساتل انسان په ښو خویونو عادت کوي، همدارازله الله تعالی څه ویره لرل د ښو خویونو اساس ګڼل شوی دی نو د یوه مسلمان غوره او ښه اخلاق دادی چې له الله تعالی څخه ویره ولری د هغه احکامو پیروي وکړي او له ګناهونو څخه په ځان ساتنه بریالی شي نو ښه خویونه لکه حلم، تواضح، صله رحمي، د مسوولیت احساس، محبت، شجاعت، سخاوت او نور په کې وده کوي او شخصیت یې له بدو خویونو لکه: کینه، دښمني، بخل، غیبت، خیانت، حرص او داسې نورو څخه خوندي پاتې کېږي همداشان مونږ د نړی ټول مسلمانان دنده لرو چې په الله تعالی ایمان ولرو او د ایمان هدف مو دادی چې باید زمونږ زړونه یوازې په یوه الله تعالی پوري تړلي وي او اراده او عمل مو د الله تعالی له امرونو سره موافق وي، همداراز په ټولو عبادتونو کې زمونږ د زړه د پاکوالي اثر پروت دی د مثال په توګه لمونځ دالله تعالی څه د ویرې خوئ په مونږ کې زیاتوي نو مونږ له بدو او بی حیا کارونو څخه منع کوي، زکات زمونږ زړونه له حرص، بخل او بی رحمي څخه پاک ساتي، روژه په مونږ کې د حلم او حوصلی خوئ پیاوړی کوي، او دفقیرانو له حال څخه مو خبروی، لنډه دا چې اسلامی عقیده او عبادتونه هر یو زمونږ د زړونو په پاک ساتلو کې اثر لري او دا زمونږ اسلامي او انساني دنده ده چې الله تعالی په یووالی سره وپېژنو امرونه یې پر ځای کړو تر هغوچې زمونږ باطني شخصیت پاک او پیاوړی شي اوهمداراز د رواني او روحي ناروغتیا څخه خوندی شو، همداشان له اخلاقي ناروغتیاو لکه: کبر، بخل، حرص، حسد، خیانت او داسې نورو څخه مو زړونه پاک او خوندي وي، په یوه مبارک حدیث شریف کې راغلي دي(په بدن کې د غوښې یوه ټوټه ده که هغه اصلاح شي نو ټول بدن به اصلاح وي اوکه فاسده شي نو ټول بدن ورڅخه فاسدېږي او دا ټوټه زړه دی) نو باید زړونه او ذهنونو موله بدو فکرونو او خویونو څخه پاک وي تر هغوچې مو عملونه اصلاح شي. همداشان د ټولنې د غړیو حقوق هم د څېړونکو له نظره په دوو ډولونو ویشل شوي چې په لاندې توګه یې یادونه کوو:

الف: د مسلمانانو حقوق.

ب: د ټولنې د نورو غړیو حقوق.

الف: د مسلمانانو حقوق:

هر مسلمان په بل مسلمان باندی ځینی ځانګړی حقوق لري دا حقوق د خپلوی قرابت په اصل نه دي ولاړ بلکې ددې حقونو د اثبات لپاره یوازې د دین یووالی کفایت کوي، ځکه چې په مسلمان خپل دین ګران دی نو د خپل دین خاوندان هم ورباندې ګران وي او دهغوی خوشحالي او سوکالي خپله سوکالی وګڼي، دهغو غم او خپګان خپل غم او خپګان وبولي، مسلمان چې کوم شی د خپل ځان لپاره ښه ګڼي د خپل مسلمان ورور لپاره دې هم وغواړي او څه چې ځان ته نه خوښوي، د بل مسلمان لپاره دې هم نه خوښوي، دا خصلت د مسلمان لپاره د ایمان لویه نښانه ګڼل شوې ده، په یوه مبارک حدیث شریف کې راغلي چې یو مسلمان په بل مسلمان باندی حقونه لري چې ځینې یې په لاندی ډول دي:

یو د بل سره نیکي کول، د ګناهکار لپاره د الله تعالی څخه هدایت او مغفرت غوښتل، هغه څوک چې له تا سره یې بد کړي وي ورسره ښه کول، دیو مسلمان د بل مسلمان سره کینه نه لرل، د محتاج سره مرسته کول، د مشر مسلمان درناوی کول، په کشر مسلمان باندې شفقت کول، له خپل بل مسلمان ورور سره خیانت نه کول، بل مسلمان ورور په بده نه یادول، د بل مسلمان غیبت نه کول، په بل مسلمان باندې بد ګماني نه کول، په غم او ښادی کې د بل مسلمان سره ځان شریک ګڼل، مسلمان جنګ ته نه هڅول بلکې تر منځ یې سوله غوښتل.

ب: د ټولنې د نورو افرادو حقوق:

مسلمان دیني او عقیدوي دنده لري چې د ټولنې د ټولو غړیو سره که څه هم اسلامي عقیده ونه لري لاندې امرونه مراعات کړي:

له دوئ سره په معامله کې خیانت نه کول، په عدلي قضایاوو کې ورسره عدالت کول، په مال او ناموس یې تیری نه کول، ددوئ په عقیدوي امورو باندې چې د اسلامي شریعت سپکاوی په کې نه وي تیری نه کول، له دوئ سره به داسې کړنه کېږي چې اسلامي شریعت سره مخالفت په کې نه وي.

همداشان په اسلامي ټولنه کې یو له بل سره په مرسته کولو هم ډېر ټینګار شویدی، ځکه د مسلمانانو ټولنه لکه یو جسد داسې ګڼل شوی دی او افراد یې د جسد د غړیو حیثیت لري، کله چې یو غړی دردمن شي ټول ځان ورسره نا آرامه کېږي نو مسلمانان په ټولنه کې په غم او ښادي کې سره شریک دي او دنده لري چې خپل ځان د ټولنې د افرادو په غم او خوشحالي کې شریک وګڼي، د ټولنې د محتاج فرد سره مرسته وکړي، که چېرې د مرستې کولو توان نه لري نو د هغه په درد کې دې ځان شریک وبولي او په ډېرو خوږو خبرو دې ورته تسلي ورکړي او په دې دې پوه کړي چې د مسلمانانو درد شریک دی، هغه مسلمان چې نورو ته یې د مرستې لاس اوږد کړی وي الله تعالی دده مرستندوی دی، دا مطلب په لاندی مبارک حدیث شریف کې بیان شوی دی:« تر څو چې یو مسلمان د بل مسلمان ورور په مرسته کې وي الله تعالی د هغه مرستندوی دی». قران عظیم الشان لارښوونه کړې ده چې (هره نیکي لس چنده ثواب او اجر لري) نو د مرستې کولو ثواب لږ تر لږه لس چنده دی، دا د یو مسلمان نیک بختي بلل کېږي چې د نورو مرستې ته یې لاس اوږد نه وي او له نورو سره په مرسته کولو بوخت وي.

بناً نیکمرغه به وي هغه انسان چې دې په لومړي قدم کې د پاک خدای(ج) عبادت په ښه توګه ترسره کړي او همدا راز خپل کارونه، خپل ورځني کړه وړه اوچال چلند هم ټول د اسلامي شریعت او اسلامي غوره اخلاقو په نظر کې نیولو سره سمبال کړي، چې دا واقعاً هم دنیاوي ګټه له ځانه سره لري او هم اخروي، مسلمانانو ورونو، بې دریغه هڅه، هاند او کوښښونه وکړئ چې له دې دواړو ګټو څخه ځانونه برخمن کړئ ترڅو دنیا اوعقبا دواړه موښکلې اوښایسته شي.

# اصلي غلام څوک دی؟

مولوي کریم الله کامران

دیوجانس یو له پیژندل شویو حاکیمانو څخه و، هغه د سکندر مقدوني د وخت یوه مشهوره کیسه رانقل کړې ده.

سکندر مقدوني په خپل وخت کې د مځکې د یوې لویې برخې فاتح او اشغالوونکی و، د نړی پر ډېرو هېوادونو او مملکتونو یې راج پروت و.

یو وخت هغه په ډېر کبر، غرور، دبدبه او فخر پر یوه لاره روان و، نو ټولو خلکو یې تعظیم او تکریم کې ټیټ ټګ کاوه، د هغه په بدرګه ډېر په ادب او احترام ورسره روان وو او په ډېر لوړ زوږ او جوش یې د هغه ستاینې ته کار ویلی وو.

مګر یوازې یوه فقیر او تارک الدنیا چې د لارې پر سر ناست و، سکندر ته یې هیڅ اعتناء ونه کړه او نه یې ارزښت او اهمیت ورکړ، بلکې د یوه عام تېریدونکي په څېر چلند یې ورسره وکړ.

سکندر پوښتنه وکړه، دغه څوک دی؟ فقیر راوستل شو، سکندر پوښتنه ترې وکړه، چې ولې دې زما احترام او تعظیم ونه کړ؟

فقیر په ځواب کې ورغبرګه کړه، چې زه باید هیڅکله ستا احترام ونه کړم، ځکه ته زما غلام یې.

سکندر غوسه هم شو، او حیران هم شو، ورته وویل یې، ته لیونی شوی یې، په کوم دلیل زه ستا غلام یم؟

فقیر ورته وویل، سکندره! مه غوسه کېږه او مه حیرانېږه، ځکه ته د شهوت، نفساني تمایلاتو او غضب غلام یې، په داسې حال کې چې دا ټول زما په لاس اسیر او زما غلام دي، نو واضحه ده، چې ته زما اسیر او غلام یې، او ته اصلي غلام یې.

# ایا اسلام یوازې د عبادت دین دی؟

**احمد منصور**




په طلوع نیوز کې په همدې عنوان بحث وو مېلمانه یې عبدالحق حماد صیب او یو بل د پوهنتون محترم استاذ وو. ټول بحث مې وکاته ډېر په زړه پورې کافي معلومات مو ترې حاصل کړل لومړی ځل ده چې د افغانستان په تلویزوني خپرونو کې داسې مهم او له مفادو ډک بحث وینم له عثماني خلافت را په دې خوا هڅه شوې چې اسلام تنها عبادتي دین وښایي په همدې موخه کفر پیاوړې تبلیغاتي دستګاه ایجاد کړې په تاسف سره چې اثر یې کړی او ډېری د مسلمانانو په دې آند شوي چې اسلام نظام نه بلکې تر مدرسې، جوماتو او ممبر پورې منحصر دین دی.

په یاد بحث کې حماد صیب له شرعي نګاه ثابت کړی چې اسلام د دین تر څنګ نظام هم دی او تر ابده د قانون په حیث د تطبیق وړ د دا چې انساني ټولنه کې ژوند کوو ځینې ذهنونه جامد وي هغوي ته به داسې استدلال وایې چې ذهنونه یې واخلي یا که جامد هم نه وي ضروري ده چې انساني عقل په داسې مواردو انصافي قضاء وکړي انسان په دې دومره مخلوقاتو کې ځکه اهم دی چې رب له شعور سره سره عقل هم ورکړی یعنې د عقل په ذریعې ښه او بد، مفاد او زیان درک کولای شي علي (رضي الله عنه) قول دی وایي که چېرته رب دنیا ته خپل استازي یا پیغمبران نه وی رالیږلي انسان د عقل د شتون له برکته باید د خدای شتون منلی وی

مونږ انسانان که تعلیمي، صحي یا طبي اداري جوړوو قوانین او ضوابط ورته ټاکو د مثال په ډول مکتب کې اداره شتون لري بیا اداره مدیر، سر معلم او استاذان لري چې دا د قانون یو ډول دی بیا دوه ډوله په تحریري بڼه اصول او قوانین ورته لرو اول د استاذانو لپاره دوهم د شاګردانو لپاره

د مثال په ډول د شاګردانو لپاره: که کوم شاګرد ناوخته راشي دا یې سزا، که فیس له اول ځل ویلو څخه وروسته را نه وړ داسې به کېږی که دویم ځل یې را نه وړ داسې که له دریم ځل روسته یې رانه وړ هاسې به ورسره کېږي همداسې نور...

دوهم استاذانو لپاره قانون: که پرته له اجازې غیر حاضري وکړي له تنخا به یې دومره پیسې کټ کیږي که ناوخته راشي دا یې سزا داسې...نور اصول ورته وي.

همداسې دې نورو ادارو کې هم قوانین ورته جوړوو تر څو اداره سالمه وي چې کارونه په سالم ډول پر مخ روان شي فکر وکړی مونږ انسانان په نسبت دې لویې دنیا ته د یوې کوچنۍ ادارې لپاره څومره قوانین لرو نو رب چې دا ځمکې آسمانونه، پکې مخلوقات او کاینات پیدا کړي څه فکر کوی قانون به یې نه وي ورته رالیږلی ولې نه، قانون قرآن او احادیث دي چې د انسانانو د ورځینې ژوند تقسیم اوقات، د مشکلاتو د حل، د کورني، بهرني ژوند د تېرولو لارې او نور انساني ضروریات او بیا یې لاس ته راوړلو لارې پکې ښودل شوي خو اوسني عصر کې د اسلامي قانون مخنیوی یې انساني نظامونه ځکه کوي چې په نېفاذ کې یې شخصي ګټې له منځه ځي که فرضاً ومنو چې اسلام عبادتي جنبه لري تر مسجد مدرسې او ممبر خاص ده هغوي چې د همدغې نظریې سره موافق دي یا د ترویج هڅې یې کولې/ کوي پوښتنه دا ده چې اسلام یې خیر بیا ولې په پورتنیو ذکر شوو مکانو کې پرېښښوده؟ تاریخ مطالعه کړی په اسلام، او اسلام پالو لومړی تېری د کفارو لخوا شوی مکه مکرمه کې چې څوک به په اسلام مشرف کېدل مشرکینو آذیت کول د بلال (رضي الله عنه) د أحد أحد شعار په داسې حال کې وو، چې د تعذیب او شکنجو لاندې وو رسول الله (صلی علیه وسلم) ته لاره کې اغزي اچول کېدل، د سجدې په مهال مرداری پرې اچول کېدې آن داسې وخت راغی چې د شهیدولو په موخه یې مکې کې مېشتو قبیلو د مبارک (علیه السلام) کور محاصره کړ حال دا چې دغه وخت جهاد هم نه وو فرض شوی.

له هغه راوروسته په ټولو زمانو کې دیني مراکز په نښه شوي کله چې انګریز په آسیایی هېوادو تېری وکړ یو له هغو هېوادو هند وو هلته اکثره مسلمانان یې آذیت شهیدان اسیران کړل خو ډېر مظالم یې په علماؤ طالبانو وکړل هماغه وو چې علماؤ د دفاع سنګر دارالعلوم دیوبند تاسیس کړ.

لرې به نه ځو د امان الله په خلاف علماء راپورته شول یو لامل یې دا وو چې په دینی مراکزو یې کار درلود، علماء یې ترور کول او د اسلامي اصطلاحاتو د ورکېدا کوشش یې کاوه. همداسې روسانو، ترکي، کارمل، نجیب هم په دیني مکانو او علماؤ کار درلود علماء یې په بې رحمۍ شهیدانول. تېر شل کاله چې چا به پګړۍ تړلې وه، جومات ته به تلو، قرآن یې تلاوت کاوه د دهشتګر په نوم وژل کېدل، مدرسې او جوماتونه یې بمبار کړل، معصوم ماشومان د قرآن حافظان یې شهیدان کړل، قرآن کریم یې وسوزاوه او تشناب کې یې واچوه

دا هغو وکړل چې وایي اسلام دین دی نظام نه او اسلام تر دیني مراکزو منحصر بولي خیر چې عقیده یې دا ده بیا له یادو مراکزو ډار ولې لري؟ چې تل یې هدف ګرزولي.

# اهداف جنگ فکری

**بخش دوم / محمد عمر عمری**

ممانعت از انتشار روح اسلام در کشورهای غیر اسلامی
یکی از اهدافی که غرب در خلال جنگ فکری آنرا دنبال می‌کند، جلوگیری از گسترش اسلام واقعی و ناب، و نفوذ روح اسلام در کشورهای غیر اسلامی است.

در واقع دشمنان اسلام خوب می‌دانند که دین اسلام دینی است که با فطرت انسانی سازگار است.

تمام نیازهای معنوی و فکری انسان معاصر را برآورده می‌کند؛ به همین خاطر است که انسان‌ها خیلی زود و به مجرد اینکه با اسلام آشنا می‌شوند به دین اسلام می‌گروند.

با این وصف غرب تا جایی که در توانش باشد از آشنایی مردم با روح اسلام، جلوگیری می‌کند.

برای این‌کار، از وسایل متعددی استفاده می‌کنند.

اما اولین وسیله‌ای که بسیار هم شایع است:

۱_نشر حرف‌های باطل در مورد اسلام:

اولین حمله‌ی شان را در این زمینه متوجه قرآن ساختند.

گفتند این قرآن از کلام الله متعال نیست و محمد صلی الله علیه و سلم خودش آن را نوشته است. نعوذ بالله من ذٰلک.

در حالی که این اعتراض را خداوند متعال چهارده و نیم قرن قبل جواب داده است؛ زیرا که یکی از اعتراضات دیرینه‌ی مشرکین است:

تنزیل من الرحمن الرحیم. فصلت/۲

تنزیل من رب العلمین. واقعه/۸۰

حالا و بعد از گذشت چهارده قرن تاریخ تکرار می‌شود و دوباره دشمنان اسلام همان افتراءات را بر اسلام می‌بندند که جواب شان در قرآن موجود است.

از سوی دیگر حرکت‌هائی در ممالک اسلامی به راه انداختند که قرآن آخرین کتاب نیست و فلان کتاب آخرین است.

یا بعضی از حرکت‌ها که امروزه به نام نواندیشی دینی می‌خواهد خود را مطرح کند.

ادعا می‌کنند که قرآن نیز قابل تصحیح است و طبق شرایط زمان و مکان و نیاز خود ما می‌توانیم چیزهائی به قرآن اضافه یا کم کنیم. نعوذ بالله.

این نواندیشی نیست. کهنه‌اندیشی است؛ اندیشه‌های کهنهٔ مشرکین است که حالا از خاک بیرون کشیده‌اند و می‌خواهند دوباره در جامعه تزریق کنند.

و دینی هم نیست چرا که کاملا ضد دین است.

دوم: می‌گویند دین اسلام چیز تازه‌ای ندارد و هرآنچه را که در ادیان گذشته بوده جمع‌آوری کرده است.

اینکه از این حرف چه اهدافی را دنبال می‌کنند کاملا مشخص است؛ زیرا می‌خواهند مردم در مورد اسلام کنجکاو نباشند و فکر کنند که وقتی در اسلام چیز تازه‌ای نیست چرا از دین خود خارج شویم و به اسلام به‌پیوندیم؟ متأسفانه امروز این ادعا در بین مسلمانان نیز زیاد شده است – یا از روی دانایی و یا هم نادانی – اما در بین مسلمانان شیوع این تفکر خطرناک‌تر است؛ اصولا نگهداشتن یک مسلمان بر دین سخت‌تر از مسلمان کردن یک فرد غیر مسلمان است.

چه بسیارند افرادی که با یک گفت‌وگوی ساده مسلمان شده‌اند.

سوم: نوشتن خطاهای مسلمانان به نام اسلام است.

هر مسلمانی در هر گوشهٔ دنیا مرتکب جرم و جنایتی شوند فورا اعلان می‌کنند که یک مسلمان به چنین جرمی دست زده است.

در حالی که اگر فرد غیر مسلمانی جنایت کند فقط نامش گرفته می‌شود و بس.

ما منکر این نیستیم که بعضی از مسلمان‌ها اشتباهاتی را مرتکب شده‌اند و جنایت‌هائی کرده‌اند، اما قطعا و یقینا نمی‌پذیریم که این اشتباهات به نام اسلام نوشته شود.

اسلام برای تمام دنیا شواهدی از انسان‌های کامل و حکومت‌های اسلامیِ درست به‌جا گذاشته است که اگر کسی می‌خواهد اسلام را بشناسد باید از روی آن‌ها بشناسد. اگر کسی می‌خواهد مسلمان کامل را بشناسد به زندگی حضرات ابوبکر صدیق، عمر بن خطاب، عثمان بن عفان، علی بن ابی‌طالب و ... رجوع کند و زندگی این ابرانسان‌های تاریخ را مطالعه کند.

چهارم: معرفی اسلام به عنوان دین خشونت، ظلم و قتل و قتال است.

در این مرحله از هر وسیله‌ای برای خشن جلوه دادن اسلام استفاده می‌کنند.

تا جایی که گروه‌های تندرو را در سراسر جهان حمایت می‌کنند تا به این وسیله بتوانند علیه اسلام حرفی برای گفتن داشته باشند.

اسلام دین عدل و عدالت اجتماعی است و سکون ورفاه را برای تمام جهانیان به ارمغان می‌آورد.

قوانین اسلامی در مسئلهٔ قتل و سرقت و زنا را برای این موضوع دلیل می‌آورند.

اولا اینکه این قوانین فقط در اسلام نیست و در تمام دنیا وجود دارد.

ثانیا در اسلام قصاص فقط در عوض قتل عمد است که با اندکی شبهه ساقت می‌شود و این بخاطر ارزش جان آدمی است تا هرکس دست به قتل و قتال نزند.

در موارد بسیار نادر حکم قتل صادر می‌شد.

اما در حکومت‌ها و قوانین غیر اسلامی حکم اعدام بخاطر قوانینی غیر از قتل است که ارزش چندانی هم ندارد. دیده می‌شود که در اسلام حکم قصاص بخاطر ارزش جان آدم است و در حکومت‌های غیر اسلامی برای پول، سیاست، مصلحت حکومت و... .

وقتی صحبت از سزای قتل، سرقت، زنا، تهمت و فساد در روی زمین می‌شود باید بدانیم که هدف اسلام از این تعیین سزا ریشه کن کردن یا به حداقل رساندن جرم و جنایت در روی زمین است.

حالا بعضی‌ها با ادعای حقوق بشر می‌گویند:

سارق باید بدون هیچ مشکلی به سرقت خود ادامه دهد.

قاتل انسان است نباید کشته شود شخصی که کشته شده انسان نبوده.

زنا و زناکاری با رضایت طرفین باشد.

تهمت آزادی بیان است و فساد در روی زمین آزادی عمل.

با این قوانین غربی می‌بینیم که روز به روز فساد در غرب بیشتر می‌شود و هیچ راهی برای ریشه‌کن کردن آن وجود ندارد مگر اینکه به قوانین اسلام روی بیاورند.

جای تردید نمی‌ماند که عمل به دستورات شریعت ضامن صلح و ثبات جامعه است.

دانشمندان غربی نیز امروزه به این مهم پی برده‌اند که اسلام تنها راه نجات بشریت است اما عناد و دشمنی شان با اسلام مانع از آن می‌شود که عملا به اسلام در آیند.

# روژه د برکتونو میاشت!

**څوارلسمه برخه / مولوي نورالحق مظهري**

د روژې میاشتي برکتونه:

یو ویشتم برکت:

بل برکت د روژې د مبارکي میاشتي دا دی چې پدې مبارکه میاشت کي الله پاک خپلو ټولو بندګانو ته خاصه توجه کوي او هره شپه د الله پاک له لوري یو آواز کوونکی داسي آواز کوي: ای د خیر او ثواب غوښتونکې مخ را واړوه او د الله پاک نور عبادت وکړه تر څو ډېر ثواب تر لاسه کړې! او ای د ګناه غوښتونکې! د ګناه څخه لاس واخله، توبه وباسه او الله پاک ته راجع سه! لکه په حدیث کي چي راځي:

وینَادي مُنَادٍ یا بَاغِيَ الخیرِ أَقبِلْ ویا بَاغِيَ الشَّرِّ أَقصِرْ.[سنن ابن ماجه۱٦٤٢]

ژباړه: یو آواز کوونکی آواز کوي چي ای د خیر غوښتونکې مخ را واړوه او ای د شر غوښتونکې د ګناه څخه لاس واخله.

دا خبره په دې خاطر کیږي چي په دې میاشتي کي د الله پاک د رحمت دروازې خلاصي دي نو مؤمن ته د ډېر عبادت د کولو او الله پاک ته د راجع کېدلو دعوت ورکوي او ګناهکاره انسان ته د ګناه د پرېښودلو او الله پاک ته د متوجه کېدلو دعوت ورکوي.

دوام لري...



## شعر او ادب

## غزل

**حضرت سعدی (رح)**

بپرهیز از حسد تا فضل یزدانت قرین باشد
که مرحوم است آدم هرقدر شیطان لعین باشد
مگو در جوش خط افزونی حسن‌است خوبان را
زبان‌کفر هرجا شد دراز از نقص دین باشد
محبت محوکرد از دل غبار وهم اسبابم
به‌پیش شعله‌کی از چهرهٔ خاشاک چین باشد
نمایانم به رنگ سایه از جیب سیه‌روزی
چه باشد رنگ من یارب اگر آیینه ین باشد
به صد مژگان فشاندن گرد اشکی رفته‌ام از دل
من و نقدی که بیرون راندهٔ صد آستین باشد
به لوح حیرتم ثبت است رمز پردهٔ امکان
مثال خوب و زشت آبینه را نقش نگین باشد
در آن مزرع‌که حسنت خرمن‌آرای عرق‌گردد
به پروین می‌رساند ریشه هر کس خوشه‌چین باشد
نسیم از خاک‌کویت‌گر غباری بر سرم ریزد
به‌کام آرزویم حاصل روی زمین باشد
ندارد دامن دشت جنون از گرد پروایی
دل عاشق چرا از طعنهٔ مردم حزین باشد
دو روزی از هوس تاریکی دنیا گواراکن
چراغ خانهٔ زنبور ذوق انگبین باشد
کف دست توانایی به سودنها نمی‌ارزد
مکن کاری که انجامش ندامت‌آفرین باشد
ز سیر آف و رنگ این چمن دل جمع کن بیدل
که هر جا غنچه گردیدی گلت در آستین باشد

***

رمز آشنای معنی هر خیره‌سر نباشد
طبع سلیم فضل است ارث پدر نباشد
غفلت بهانه‌مشتاق خوابت فسانه‌مایل
بر دیده سخت ظلم است گر گوش کر نباشد
افشای راز الفت بر شرم واگذارید
نگشاید این گره را دستی که تر نباشد
بر آسمان رسیدیم راز درون ندیدیم
این حلقه شبهه دارد بیرون در نباشد
خلق و هزار سودا ما و جنون و دشتی
کانجا ز بیکسی‌ها خاکی به سر نباشد
چین کدورتی هست بر جبههٔ نگین‌ها
تحصیل نامداری بی‌دردسر نباشد
امروز قدر هرکس مقدار مال و جاه است
آدم نمی‌توان گفت آنرا که خر نباشد
در یاد دامن او ماییم و دل‌تپیدن
مشت غبار ما را شغل دگر نباشد
نقد حیات تا کی در کیسهٔ توهم
آهی که ما نداریم گو در جگر نباشد
آن به که برق غیرت بنیاد ما بسوزد
آیینه‌ایم و ما را تاب نظر نباشد
پیداست از ندامت عذر ضعیفی ما
شبنم چه وانماید گر چشم تر نباشد
گرداندە گیر بیدل اوراق نسخهٔ وهم
فرصت بهار رنگست رنگ این‌قدر نباشد

# روژه د عزت میاشت ده!

**مولوي نورالحق مظهري**

عزت هغه شریف خصلت، ښه عادت، لوړ اخلاق، او قیمتي ادب دی چې د عزتمندو انسانانو زړونه وربانديې عاشق دي او د با اعتباره خلکو نفسونه یې د کسبولو کوښښ کوي.

اسلام د عزت او کرامت دین دی، اسلام د ترقۍ او پرمختګ دین دی، اسلام د کوښښ او اجتهاد دین دی. اسلام د ذلت او مسکنت دین نه دی او اسلام د سستۍ او تنبلۍ دین نه دی.

د روژې مبارکه میاشت د عزت حاصلولو لپاره ډېر پیراخ او وسیع میدان دی او یوه ډېره ښه زمینه او فرصت دی په دې خاطر چې روژه تی په روژې باندې د عزت اخلاق لاس ته راوړلای سي پدې شرط چې خوړل، څښل،، شهوت او ټول ګناهونه پسې پرېږدي.

ځکه د روژې په نیولو باندې انسان د بې اعتباره حالت او سپکو کارونو څخه را وځي او د عاداتو د زندان او نفسي غوښتنو څخه نجات پیدا کوي چې دا خپله لوی عزت دی.

همدا راز روژه تی پدې باندې عزت پیدا کوي چې په روژه کې ځان د جنګ، ریاء، جهالت، فسق او عبثو کارونو څخه ساتي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: إذا كان يوم صوم أحدكم فلا يرفث، ولا يصخب » وفي رواية « ولا يجهل » ، وفي رواية « ولا يجادل »

ژباړه: کله چې ستاسي څخه د یوه روژه وي نو فسق دې نه کوي او چیغې دې نه وهي، په بل روایت کې راغلي دي: جهالت دې نه کوي او په بل روایت کې راغلي دي: جنګ دې نه کوي.

او دا معلومه خبره چې څوک داسي روژه ونیسي نو د ځان لپاره یې عزت او کرامت وساتی او د هغو خلکو څخه یې ځان و ایستی چې ښکنځل او بدي خبري ورته خوند ورکوي.

همدا راز مسلمان روژه تی په دې باندې عزت تر لاسه کوي چې په دې مبارکه میاشت کې ډېر عبادات کوي ځکه په ډېر عبادت باندې طبعا د انسان ارتباط د الله تعالی سره ټینګېږي او نورو شیانو سره یې رابطه لړېږي چې پدې کار باندې انسان عظیم عزت تر لاسه کولای سي ځکه چې د الله پاک سره ډېره رابطه، د عباداتو ډېروالی او د ایمان قوت رښتینی او حقیقي عزت دی. الله پاک فرمایي: ژباړه: عزت د الله، ر سول او مؤمنانو لپاره دی. [المنافقون ۸]

همدا راز مسلمان روژه تی په دې باندې عزت تر لاسه کولای سي چې په دې مبارکه میاشت کې د الله پاک په لاره کې ډېر انفاق کوي، د اړو انسانانو سره نیکي او احسان کوي او د خلکو حاجتونه پوره کوي چې دا خپله د انسان لپاره لوی عزت دی ځکه چې په دې کار باندې ډېر مسلمانان د سوال څخه ساتل کېږي او د ډېرو اخلاقي مفاسدو مخه نیول کېږي چې دا کار د ډېر ثواب تر څنګ د مسلمان لپاره لوی عزت هم دی.

# د کوچني اختر فلسفه، احکام او آداب

**پوهنیار څارمن نورجمال وردګ**




**سریزه**

اختر ته په عربي ژبه کې عید وایي او عید د یوه داسې موسم نوم دی چې د هر ښه مناسبت لپاره په کار وړل کېږي خو کوچنی اختر له هغه عید څخه عبارت دی چې د رمضان د میاشتې له تمامیدو او د شوال د میاشتې له رابره کېدو سره سم اسلامي نړۍ ته د خوښیو ځولۍ راوړي. یا په بله مانا کوچنی اختر د شوال د میاشتې لومړۍ ورځ ده.

مسلمانان په کال کې دوه دیني عیدونه لري لکه (عید سعیدالفطر )کوچنی اختر او( عید سعیدالاضحی (لوی اختر.

انس رضي الله عنه فرمایلي دي: چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته تشریف یوړو نو ویې لیدل چې خلک په کال کې دوې ورځې اختر کوي نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته و فرمایل: ژباړه ( تاسو دوه عیدونه لری چې په هغه کې لوبې کوی نو الله جل جلاله ستاسو دغه دوه عیدونه په ډېرو بهترینو اخترونو بدل کړل چې کوچنی اختر او لوی اختر دی) رواه اوبو داود و نسایي.

**د کوچني اختر دورځې احکام**

ـ : ابي سعید د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی او ویلي یې دي چې د عیدالفطر او عیدالاضحی په ورځو روژه نیول حرام دي) رواه البخاري

د امام ابو حنیفه رحمه الله او ځینو نورو مذاهبو کې د اختر د لمانځه ادا کول په مسلمانانو باندې واجب ګرځول شوي دي.

ـ : پیغمبر ص به د اختر د لمانځه نه وروسته خطبه لوستله.

- : امام به په لومړي رکعت کې څلور تکبیرات وایي او په دوهم رکعت کې به هم څلور ځلې تکبیرات وایي.

د اختر د لمانځه ترتیب په دې ډول دی چې مقتدي به په امام پسې د دوه رکعته واجب لمونځ نیت تړي، سبحانک اللهم به تر لااله غیرک پورې وایي بیا له امام سره یو ځای څلور تکبیره ادا کوي او د هر تکبیر سره سم به خپل لاسونه غوږونو ته رسوي، فاتحه او سوره به لوستل کېږي له رکوع او سجدو وروسته به دوه یم رکعت پیل کیږي په دوه یم رکعت کې به امام فاتحه او سوره لولي د سورې له لوستلو وروسته به بیا امام او مقتدیان دواړه څلور تکبیره وایي او په هر تکبیر کې به خپل لاسونه غوږونو ته وړي د پنځم تکبیر سره سم به رکوع ته ځي او دوه یم رکعت به هم ادا کیږي.

- : . روایت چې: (کله رسول الله صلی الله علیه وسلم د اختر د لمانځه لپاره ووت نو نه یې د هغه لمانځه څخه د مخه او نه وروسته نفل لمونځ ادا کړ) رواه البخاري

**د کوچني اختر د ورځې آداب**

۱. د اختر په ورځ غسل کول سنت دی او دغه کار رسول الله صلی الله علیه وسلم هم کړی دی. ابن عمر رضي الله عنهما فرمایلي دي: ( مخکې له دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د اختر د لمانځه لپاره ووت نو غسل به یې کاوه.

۲. د انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به تر هغه لمانځه ته نه ووت څو به یې چې یو څو خرماوې نه وې خوړلې) رواه البخاري

مانا دا چې دکوچني اخترد لمانځه د مخه به یې افطار کاوه خو په لوی اختر کې بیا غوره خبره د ا ده چې قرباني وکړي او له هغه څخه کوم خوراک پوخ او بیا پرې افطار وکړي.

۳. د لمانځه د ادا کولو ځای ته تر رسیدلو د مخه د تکبیراتو ویل لکه: الله اکبر الله اکبر، لااله الاالله و الله اکبر الله اکبر و لله الحمدویل ډېرثواب لري.

۴. د نوو، ښایسته او پاکو جامو اغوستل په دې ورځ مستحب کار دی نو که یو څوک نوې جامې لري هغه دې واغوندي او که یې نوې جامې نه وي کړې نو خپلې پاکې پخوانۍ جامې دې واغوندي. جابر رضي الله عنه فرمایلي دی: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه چپنه درلوده چې د اخترونو او جمعې په ورځو کې به یې پوښله) رواه ابن خزیمه).

**د کوچني اختر په هکله د پاملرنې وړ ټکي:**

ځینې ټکي د زیاتې پاملرنې وړ دي چې زموږ د ټولنې وګړي ورته متوجه وي هغه دا چې:

۱. د اختر ورځ د خوښۍ ورځ ده نو که چیرې هغه مسلمانان چې له یو بل څخه یې زړونه بد شوي وي باید چې سره پخلا شي د اختر مبارکي وکړي او یو د بل کورونو ته ورشي.

۲ : د اختر په ورځ له داسې لوبو او نورو ځیزونو ډډه کول پکار دي چې سړی د ګناه سرحد ته ور نږدې کوي خو مناسبې لوبې، تفریح او ساعت تیري بیا ښه کار دی چې مسلمان خپلې د اختر ورځې پر خوښۍ سره تیرې کړي.

۳: د هېواد نږدې تاریخ او روانو حالاتو ته په پام کې نیولو سره ضروري ده چې خبري رسنۍ او بیا په ځانګړې توګه تلویزیوني خپرونې داسې خپرونې وکړي چې د ترحم، شفقت او مهربانیو له درسونو څخه ډکې وي.

۴. د اختر خوښي د دې لپاره وي چې یاره څومره ښه وشول چې موږ یو ستر او عظیم عبادت ادا کړ چې الله جل جلاله پر مسلمانانو باندې فرض ګرځولی وو او الله ج دیې پر ټول مسلمه امت رحم وکړي نو مسلمان به د خپلې خوښۍ له کبله هم ثوابونه ګټي.

## د بشري وضعیت اصلي مسؤل هغه کسان دي چې...

همدارنګه ویلي، چې دا پریکړه په دې معنا هم نه ده، چې دلته تبعیضي چلند کیږي، یا د ملګرو ملتو فعالیت ته خندونه جوړیږي؛ بلکې موږ د خپلو ټولو هیوادوالو دیني، کلتوري او علیا مصالح په نظر کې نیولو سره د دوی ټولو حقوقو ته ژمن یو. سرچینې زیاته کړې، چې د افغانستان بشري وضعیت د بندیزونو او فشارونو له کبله رامنځته شوی او دوام لري او اصلي مسئولیت یې هم هغو لوریو ته ورګرځي، چې د افغانستان پر مالي او بانکي سیستم یې بندیزونه لګولي دي او سفري محدودیتونه یې وضع کړي دي. د اسلامي امارت ویاند ویلي چې د افغانستان بېړني وضعیت ته په کتو اړینه ده، چې د ملګرو ملتونو غړي هېوادونه ژر تر ژره د افغان شتمنیو کنګل کولو، بانکدارۍ، سفري بندیزونو او نورو محدودیتونو مسئله حل کړي ترڅو افغانستان وکولای شي په اقتصادی، سیاسي او امنیتي ډګرونو کې پرمختګ وکړي او په خپلو پښو ودریږي

## افغانستان او ترکمنستان به د سټنډرډ په برخه...

د یادې ادارې سرپرست ملا فیض الله تمیم په دغه غونډه کې وویل چې د سټنډرډ ملي اداره اوسمهال د سټنډرډ د نړیوالو سازمانونو لکه (ISO)، (SARSO)، (ILAC)، (SMIIC)) او (IEC) غړیتوب او د سټنډرډ د نړیوالو سازمانونو په ناستو کې فعال حضور لري.
د تمیم په وینا د سټنډرډ ملي ادارې په هېواد کې د سټنډرډ د فرهنګ د ودې او پراختیا په برخه کې بنسټیز کارونه کړي او تر دې دمه دغې ادارې په ټولیز ډول ۷۷۵ ملي سټنډرډونه او ۶ کوډونه، چې په کې د انجنیرۍ، ښاري پراختیا، ساختماني، لویې لارې، سړک او د پلونو ډیزاین شامل دي تدوین شوي دي.
نوموړي زیاته کړه، چې په روان کال کې د ۵۸ نورو سټنډرډونو جوړل هم په پام کې لري.
د سټنډرډ ملي ادارې مسوولینو همدارنګه وویل چې څه موده وړاندې یو پلاوی د ګازو او د کیفیت په برخه کې د شته ستونزو د حل په موخه ترکمنستان هېواد ته لېږل شوی و او د یاد هېواد د سټنډرډ ادارې او اړوندو مسوولینو ورسره د ګډو همکاریو ژمنه کړې او په نږدې راتلونکي کې به په دې برخه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ یو هوکړه لیک هم لاسلیک شي.
د سټنډرډ ادارې مسوولینو وویل چې په تېر یوه کال کې یې څه د پاسه ۲ میلیارده افغانۍ عواید راټول کړي، چې د ورم کال په پرتله ۴ برابره ډېروالی پکې راغلی دی.
یادې ادارې د نفتي توکو د کیفیت د تثبیت او معاري کولو په موخه تېر کال هېواد ته د را وارد شوي ۶۰ زره ټانکره نفتي توکي تثبیت کیفیت کړي، چې له دې جملې څخه یې شاوخوا ۱۰۰۰ ټانکره بې کیفته تثبیت او بېرته مسترد کړل شوي دي.
د سټنډرډ ملي ادارې د ساختماني توکو لابراتوار په مرکز او د اسلام قلعه، هرات او تورخم بندرونو کې فعال دي او تېر کال یې ۳۲زره ۴۱۵ بار وړونکي توکي، چې مجموعي وزن یې ۱میلیون ۳۰۱ زره ۶۷۰ ټنه کېږي کیفیت تثبیت کړی دی.
د یادونې وړ ده، چې د سټنډرډ ملي ادارې په نړیوالو بازارونو کې د افغاني محصولاتو ارزښت لوړولو په موخه د مدیریت سیسټمونو او محصولاتو لپاره د کیفیت تصدیق نامې صادرول، د ملي سټنډرډونو تدوین، ترویج او تطبیق، د ډېرو سکرو لابراتوار فعالول، د بې کیفیته توکو د واردېدو د مخنیوي په موخه په بندرونو کې د لابراتوارونو پراختیا، د میترولوژۍ لابراتوار فعاله کول او ورته موارد د خپلو راتلونکو موخو او پلانونو په توګه مشخص کړي دي.

## کابل ښار کې ګرځنده موټر مینځونکي...

د سړکونو او لښتیو د ژر ویجاړېدو سبب ګرځېدلي دي.
په خبرپاڼه کې راغلي، چې د کابل ښاروالۍ د عامه تاسیساتو د تخریب په تړاو د دغو موټر وینځلو فعالیت غیر قانوني بولي او د مخنیوي په لټه کې یې دی.
د ښاروالۍ مسوولینو دغه راز له ښاریانو او امنیتي بنسټونو څخه غوښتي، چې د عامه تاسیساتو د ټینګښت په خاطر په دې برخه کې له ښاروالۍ سره همکاري وکړي.

## بامیانو کې زرګونه کیلوګرامه بېلابېل نشه...

۹.۵ لېټره الکولي مشروبات او ۶۷۴ لېټره تېزاب نیولي وو، چې نن له منځه یوړل شول.
یاد نشه یي توکي په داسې حال کې سوځول کېږي، چې څه موده وړاندې عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د یوه فرمان پر صادرولو سره د نشه یي توکو د سوځولو امر کړی وو.

## مولوي انعام الله سمنګاني د کندهار ولایت...

او تبدیل یو اصل وباله او نوي رییس ته یې په چارو کې د بریا هیله وکړه.
نوي رییس مولوي انعام الله سمنګاني،هم په دې مراسمو کې وینا وکړه وې ویل،چې په کندهار کې د دندې ترسره کولو فرصت د ځان له پاره ویاړ بولي.
ښاغلي سمنګاني د کندهار پر تاریخي، فرهنګي او سیاسي اړخ هم خبرې وکړې او ژمنه یې وکړه چې ورسپارل شوی مسوولیت به په پوره صداقت او امانتدارۍ تر سره کړي.

## وزارت امور خارجه ده‌ها طالب العلم را...

این افراد برای تحصیل علوم دینی به زاهدان ایران رفته بودند، به دلیل نداشتن اسناد قانونی توسط دولت محلی در زاهدان بازداشت شده بودند.

## ۱۶ ټانکره بې کیفیته تېل بېرته ایران ته...

سوداګرو غوښتي چې هېواد ته باکیفیته توکي وارد کړي او د بې کیفیته توکو له واردولو دې ډډه وکړي کنې قانوني چلند به ورسره کېږي.

## د افغانانو لپاره د نړیوالو مرستو راجلبولو...

کتنه کې یاد پلاوي، ویلي، چې په افغانستان کې اقتصادي ستونزې ډېرې دي، خو ملګري ملتونه هڅه کوي د افغانانو لپاره نړیوالې بشري مرستې راجلب کړي. یاد پلاوي همدارراز ټینګار کړی چې په افغانستان کې روان مسایل به له اسلامي امارت سره د خبرو اترو له لارې حل کوي. د ریاست الوزراء د سیاسي معاونیت د دفتر عمومي رییس په افغانستان کې د ملګرو ملتونو هڅې او شتون د افغانستان لپاره مهم بللی او له افغانانو سره یې د نړیوالو د بشري مرستو د ډېرېدو غوښتنه کړې ده. نوموړي زیاته کړې، چې حکومت یې له نړیوالو سره مثبت تعامل ته چمتو دی.

## غزني کې څه باندې ۱۰ زره کورنیو...

او ولسوالیو په بېلابېلو کلیو او روغتیایي مرکزونو کې جوړې شوې دي.
د مسوولینو په وینا، د دغو شبکو پرمټ ۱۰ زره ۶۴۳ کورنیو، ۱۳ جوماتونه، یو ښوونځی او څو روغتیایي مرکزونو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې دي.

## بدخشان کې د یو شمېر نیمګړو پروژو...

پروژه د اسیا پراختیایي بانک له خوا تمویل شوې وه، چې د دغه ولایت په کچه د اوبو لګولو او طبیعي زېرمو د مدیریت په موخه یې کار کاوه، خو د څلورو پروژو چارې نیمګړې پاتې دي.
د هغه په وینا، د دغو پروژو چارې به د اسیایي پراختیایي بانک له بودجې څخه د ۲۰ میلیونه افغانیو په لګښت پیل شي، چې پیسې یې د اسلامي امارت له راتګ مخکې د پراختیایي شوراګانو حساب ته لېږدول شوې وې.

## ادارات می‌توانند متقاعدینی که توانایی...

حوزه احتمالی هرات، کشک- تیرپل) را بررسی و در مورد تصمیم اتخاذ نماید.
همچنان بعد از مشخص نمودن حیثیت حقوقی شرکت زراعتی و مالداری بوستان سبز و مفاهمه با سهمداران قبلی در مورد فعال نمودن آن اجراآت لازم را انجام داده؛ هر گاه سهمداران قبلی در رابطه مشکل دارند، با سایر شرکت‌ها مفاهمه نموده، نتیجه و یا طرحی آن را به نشست کابینه ارایه نماید.
همچنان تقاضای اداره ملی احصائیه و معلومات در مورد قیمت تذکره الکترونیکی پنجصد افغانی، تذکره کاغذی، توزیع مثنی و تائید آن دوصد افغانی، توزیع کارت تولد اطفال دوصد افغانی و از بزرگسالان پنجصد افغانی، توزیع تذکره‌های غیابی جدید یا مثنی و یا تائیدی آن دو صد دالر و توزیع کارت تولد غیابی دوصد دالر تائید گردید.
در این نشست کابینه طرزالعمل ثبت کار خانه‌های خارجی و اقلام دوایی ترتیب شده از جانب اداره ملی دوا و غذا، تصویب و تاریخ (۲۰) ثور هجری شمسی در تقویم به نام روز ملی صادرات تصویب گردید.

## جهان باید نسبت به پیشرفت‌ها در افغانستان...

وزارت امور خارجه امارت اسلامی با تاکاشی آگادا سفیر جاپان در کابل، دیدار نمود. در این دیدار روابط دو جانبه میان دو کشور و اوضاع سیاسی مورد بحث و بررسی قرار گرفت. سفیر جاپان در سخنان خود توضیح داد که با وجود نظرات مختلف، کشورش طرفدار تعامل با مقامات افغانستان است.
مولوی امیرخان متقی وضعیت افغانستان را مثبت توصیف کرد و افزود که منطقه و جهان باید در زمینه تحولات مثبت افغانستان واقع بین باشد تا با ایجاد فضای همکاری و همآهنگی راه برای پیشرفت و تعامل هموار گردد.

## کابل کې د یو میلیون ډالرو په ارزښت...

چرګان پالل کېږي. نوموړی سوداګر وایي، هیله مند دی چې په نږدې راتلونکي کې به وتوانیږي، چې خپله د فعالیت ساحه ولایتونو ته هم پراخه کړي. تر څو په دې برخه کې د ځان بساینې تر څنګ نورو خلکو ته هم د کار زمینه برابره شي. په دغه فارم کې په کار بوخت کسان وایي، چې په خپل وخت د چرګانو واکسین او د نورو ګڼو اړتیاوو په پام کې نیول لامل شوی چې د چرګانو تلفات تر پنځه سلنې راکم کړي. د کرنې وزارت ویاند وایي، چې افغانستان د چرګانو د غوښو او هګیو په برخه کې پرځان بساینې ته نه دی رسېدلی او دوی اړ دي چې دې برخه کې اړتیاوې له بهره په وارداتو پوره کړي.

## ننګرهار کې د نفرایټ ډبرو کان د استخراج...

سیالي سره وکړه. د ګټونکي شرکت رییس وایي، چې ډېر ژر به په ننګرهار کې د نفرایټ د را ایستلو لړۍ پیل کړي.
کانونو وزارت وایي، چې له دغه شرکت سره د پنځو کلونو لپاره تړون لاسلیک شوی دی. د شرکت رییس وایي، چې د دغه کان کار به ډېر ژر پیل کړي او په سمه توګه به یې پای ته ورسوي. د نفرایټ ډبرو اصلي کانونه د چین د سینکیانګ په لویدیځ کې دي او دغه راز یې په استرلیا، برما، برازیل، کاناډا، مکسیکو، ټایوان او پولنډ کې هم کانونه شته.

## د ولس ستونزو ته رسیدنه د مسؤلینو اساسي...

هېوادوالو ته په کې د کار زمېنه برابره شي موږ په کور د ننه د برېښنا بندونو د جوړولو پراخه منابع لرو چې په اقتصادي پرمختګ کې رغنده ونډه لري باید عملي قدمونه پورته شي د بیلګې په توګه د کونړ بند، هلمند، آمو، پنجشیر، کابل، لوګر او، لغمان سیندونه او داسې نور چې د برېښنا بندونو د جوړولو او د ښارو ځمکو د خړوبولو په برخه کې ترې کار واخیستل شي موږ دې ته نه احتیاجېږو چې له نورو هېوادونو څخه وړه او غنم وارد کړو که چیرته په دغه سیندونو د برېښنا بندونه ورغول شي نو د هېواد په کچه له برېښنایي ستونزو څخه خلاصېږو او د پرمختګ او ترقۍ په لور ګړندي ګامونه اخیستلی شو نو لازمه ده چې حکومت او ملت یو بل ته غېږ پرانیزي او په ګډه د هېواد په ابادۍ کې په پوره اخلاص او ایماندارۍ برخه واخلي په همدې هیله ومن الله توفیق

## هرات کې د ښځو لخوا د لاسي صنایعو اختریز...

مهال د لوېدیځې حوزې د سوداګرۍ او صنایعو خونه، په هرات کې د ښځو د سوداګریزو فعالیتونو ښه والی هیله بښونکی ګڼي. وروستیو میاشتو کې هرات کې د ښځو لپاره د دوو ځانګړو بازارونو په فعالېدو سره، لسګونه ښځو او نجونو په دغه بازارونو کې هټۍ پرانیستې دي او سوداګریزو فعالیتونو ته یې مخه کړې ده. هرات کې ځینې سوداګرې مېرمنې او نجونې له دې امله چې وروستیو میاشتو کې یې کاروبار ښه شوی، خوشحاله دي.

## مسوولان در پکتیکا مانع غصب ۴۰ جریب...

جلوگیری نموده اند.
وزارت زراعت روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت که ریاست زراعت، آبیاری و مالداری پکتیکا، جلو غصب ۴۰ جریب زمین را در ولسوالی‌های یحی خیل و خیرکوت گرفته است.
در خبرنامه آمده است که برخی اشخاص در تلاش بودند تا زمین یاد شده را غصب نمایند، اما مدیریت زراعت و کمیتهٔ جلوگیری از غصب زمین ولسوالی‌های یحی خیل و خیرکوت، مانع آنان شده شدند.

## گشایش نمایشگاه سه روزه‌ی قرآن کریم...

جوانان ریاست اطلاعات و فرهنگ گشایش یافت.
دراین نمایشگاه، پنج صدجلد قرآن کریم به گونه ی خطی ودیجیتلی ، با قطع وصحافت مختلف به نمایش گذاشته شده است.
پنجصد جلد قرآن کریم، تفاسیر، احادیث، کتب دینی و یکتعداد نسخه های خطی از آیات قرآن نیز در سالون کتابخانهٔ عامهٔ ظهیر فاریابی این ریاست به نمایش گذاشته شد.
مولوی شمس الدین محمدی رئیس اطلاعات و فرهنگ ولایت فاریاب درمراسم گشایش این نمایشگاه قرآن کریم، هدف از راه اندازی آن را ترویج فرهنگ مطالعه و کتابخوانی به خصوص مطالعهٔ قرآن کریم، تفاسیر و احادیث نبوی صلی الله علیه و آله و سلم در جامعه خواند و از علمای دین، طلبای مدرس، محصلین و متعلمین تقاضا کرد تا از این نمایشگاه، که مدت سه روز به روی علاقمندان باز است، بازدید کنند.
درمراسم گشایش این نمایشگاه، مولوی سید حفیظ الله معتصم بالله رئیس معارف فاریاب و مفتی حجت الله نجیح ازعلمای اسلامی، هر کدام بالنوبه در رابطه به اهمیت و فضیلتِ آموزش و تلاوت قرآن کریم صحبت نموده، با استنادَ از آیاتِ قرآن و حدیث نبوی «ص» قرآن عظیم الشأن را شفابخش دَرد ها و حلّال همهٔ مشکلات در جامعه دانسته، جوانان را در پهلوی آموزش سایر علوم، در فراگیری علوم قرآن و حدیث نیز تشویق و ترغیب کردند.

## غزني کې ۱۷۴ کورنۍ له پاکو اوبو...

بیارغونې او پراختیا رییس وویل، د اوبو دغه شبکه د یونیسف په مالي جوړه شوې چې څلورنیم میلیونه افغانۍ لګښت پرې راغلی دی. نوموړي زیاته کړه، د اوبو د دغې شبکې په جوړېدو سره د یادې ولسوالۍ ۱۷۴ کورنۍ د څښاک له اوبو برخمنې شوې.

## سمنګانو کې د نشه یي توکو یوه کارخانه...

مدیریت سرپرست هدایت الله هجران وایي، چې د دغه مدیریت ځواکونو د یوه کشفي راپور پر اساس د دغه ولایت د رویي دواب ولسوالۍ په چهارچشمه سیمه کې د نشه یي توکو د تولید یوه کارخونه کشف او له منځه وړې ده.
هجران وویل، چې په دغه کارخونه کې سلګونه کیلو ګرامه بېلابېل ډوله نشه یي توکي او ۹ کسان نیول شوي دي.
د یادونې وړ ده، چې له دې وړاندې په دغه ولایت کې د یاد مدیریت ځواکونو په بېلابېلا سیمو کې د نشه یي توکو یو شمېر کارخونې له منځه وړې وې.

Shariat
Twice printed in week

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷٦۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Thursday 13 April 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 157

# وزارت امور خارجه ده‌ها طالب العلم را از یک زندانی در ایران آزاد نمود

شـریعت: وزارت امـور خارجه می‌گوید که ده‌ها طالب‌العلم که در ایران زندانی بودند، آزاد شده و به کشور برگشتند.

وزارت امـور خارجـه بـا نشـر خبرنامه‌یـی گفتـه اسـت: به اثر تـلاش وزارت امـور خارجـه، سـفارت افغانسـتان در تهران و قنسولگری افغانستان در زاهدان، ده هـا طالـب العلـم از زندان زاهـدان آزاد شـدند و به کشـور برگشتند. ۵مخ



# مولوي انعام الله سمنګاني د کندهار ولایت د اطلاعاتو او کلتور رئیس په توګه معرفي شو

شریعت: د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه لللـه، د ځانګـړي فرمان لـه مخي، مولـوي انعـام الله سـمنګاني د کندهار د اطلاعاتو او کلتور د نـوي رییس په توګه معرفي شو.

د ښاغلي سمنګاني د معرفت په مراسمو کې د اسـلامي امارت ویانـد ذبیـح اللـه مجاهد هم ګډون کړی وو.

ښـاغلي مجاهـد د مخکېنـي رییس، مولوي نور احمد سعید، د خدمتونو د ستاینې ترڅنګ، په دولتي ادارو کې تغییر... ۵مخ



# ۱۶ ټانکره بې کیفیته تېل بېرته ایران ته مسترد شول

شریعـت: له ایـران څخه وارد شوي ۱٦ ټانکره بې کیفیته ډیزل او پټرول له فـراه ولایت څخه بېرته دغه هېواد ته ګرځول شوي دي.

د سـتنډرډ ملي ادارې ویلي، د فراه ۷۸میل بندر کې ۱٦ ټانکره بې کیفیته تېـل ایران ته ګرځول شوي دي.

سرچینې ویلي په وروسـتیو کې د ستنډرډ ملي ادارې په جدیت سره د بې کیفیته تېلو د واردولو مخنیـوي لپاره عمـلي ګامونه پورته کړي دي.

یادې ادارې له ... ۵مخ



# د قزاقستان د لومړنیو خوراکي توکو مرسته هېواد ته راورسیده

لـه قزاقسـتان څخـه د لومړنیو خوراکي توکو لسګونه واګونه بشر دوستانه مرسته بلخ ته راورسېده.

د بلـخ ولایتي چارواکـي وایي چې د قزاقسـتان دغه مرسته کابو ۸۱ واګونـه ده، چـې ۳۵ واګونه د حیرتـان بندر لـه لارې هېواد تـه را رسـېدلي او ۴۶ واګونه به سبا ته راورسـېږي. د بلخ ولایت چارواکو د دقزاقسـتان له مرستو مننـه کـړې او پر نـورو ګاونډیو هېوادونوېې هـم غږ کړی چې د افغانسـتان له خلکو سـره بشري مرسـتې وکړي. د افغانستان لپاره د قزاقسـتان سـفیر حلیـم خان ایسینګلدیف ویلي، چې د مرسته شویو ۸۱ واګونه خوراکي توکو له جملـې یې ۳۵ واګونـه خوراکي توکي چې نخود په کې شامل دي افغان پلاوي ته وسپارل.



# یوناما
# د افغانانو لپاره د نړیوالو مرستو راجلبولو هڅې کوو

د ریاست الوزرا د سیاسي معاونیت د دفتـر رییس په افغانسـتان کې د ملګرو ملتونو د سیاسـي استازولۍ (یونامـا) د کورنـي سیاسـت او اقتصادي چارو له مسـوولینو سره کتلي دي. په دې... ۵مخ



# غزني کې څه باندي ۱۰ زره کورنیو ته پاکې اوبه برابرې شوې

شریعت: د غزني ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د ۳۱ میلیونو او ۱۴۳ زره افغانیو په لګښت د څښـاک اوبـو ۸ شـبکې جـوړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د غزني د کلیو، بیا رغونې او پراختیا ریاست مسوولین وایي، چې د دغه شبکې د یونیسف موسسې په مالي ملاتړ د مرکز ۵مخ



# بامیانو کې زرګونه کیلوګرامه بېلابېل نشه يي توکي وسوځول شول

د بامیانـو د امنیـې قومندانـۍ مسوولین وایي، چې په دغه ولایت کـې تېر ۱۴۰۱ ه ش کال په بېلابېلا عملیاتو کـې نیول شـوي زرګونه کیلوګرامه نشـه يي توکي له منځه یوړل شول.

د دغـه ولایت د امنیـې قومندانۍ ویانـد محمد خواني رسـا باختر آژانس ته وویل، چې تېر کال د دغه ولایت د نشـه يي توکو پر وړاندې د مبـارزې مدیریـت ځواکونو ۱۶ زره ۷۴۴ کیلوګرامـه یامـه، ۹۲۰ کیلوګرامـه کاسـتیک، نـرډې ۱۲ کیلوګرامه چـرس او تریاک، ۱۸۷ ګرامه هیرویین، ۱۵۳ ګرامه ښیښه، ۳۴۰ ټابلېټ کا ګولۍ،... ۵مخ

# پکتیکا کې یو صراف د انسان تښتوونکو له منګولو خلاص شو

شریعـت: د پکتیـکا ولایت په ارګون ولسـوالۍ کې تېره ورځ یـو صراف د انسـان تښـتوونکو لـه منګلو ژغورل شوی دی.

د پکتیـکا د امنیـې قومندانۍ مسـوولین وایي، چې امنیتي ځواکونـو یـو صراف د دغه ولایـت د ارګون ولسـوالۍ په ګلشـاخېلو سـیمې کې د انسـان تښـتونکو له منګولو ژغورل شوی دی.

د مسـوولینو په خـبره، دغو انسان تښـتونکو د مجاهدینو لـه نامه څخـه په اسـتفادې دغه صراف تښتولی وو، چې د امنیتـې ځواکونـو له لوري ونیول شول.

د یادونې وړ ده، چې له دغو انسـان تښـتوونکو سره یـو کلاشـینکوف او یوه تومانچه هم نیول شوې ده.

# گشایش نمایشگاه سه روزه‌ی قرآن کریم در فاریاب

بـه مناسـبت مـاه مبـارک رمضـان، نمایشـگاه ۳ روزه قرآن عظیم الشـأن از سـوی ریاسـت اطلاعات و فرهنگ فاریاب راه اندازی شد.

ایـن نمایشـگاه، دیـروز با اشـتراک تعدادی از روسای ادارات دولتـی، علمای دین، طـلاب مـدارس، فرهنگیان، اهل رسـانه ها و جوانان در سالون مرکز آموزشی ص۵



# بدخشان کې د یو شمېر نیمګړو پروژو چارې پیلېږي

د کرنې، اوبولګولـو او مالدارۍ وزارت سلاکار عتیق الله مسلم د یوه پلاوي په مشرۍ بدخشان ته د سفر پرمهال د یاد ولایت د ارګو او بهارک ولسوالیو له نیمګړو پروژو څخه لیدنه وکړه.

د بدخشان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس قاري قطب الدین د هغوي او د کرنې وزارت پلاوي په بهارک او ارګو ولسوالۍ کې د خېړنې له فارم او طبیعي زېرمو او نیمګړو پروژو څخه لیدنې پرمهال وویل، چې د اسـلامي امارت له بریا مخکې د پنج آمو... ۵مخ



# سمنګانو کې د نشه يي توکو یوه کارخانه له منځه یوړل شوه



شـریعت: د سـمنګان ولایت په رویي دواب ولسـوالۍ کې د نشه يي توکـو د تولید یـوه کارخونه له منځه یوړل شوه.

د دغه ولایت د نشـه یـي توکو پر وړاندې د مبارزې... ۵مخ

# غزني کې ۱۷۴ کورنۍ له پاکو اوبو برخمنې شوې

شریعت: د غزني ولایت د کلیو بیارغونـې او پراختیا ریاسـت مسـوولین وایي، له ماشـومانو د ملګرو ملتونـو ملاتړ صندوق له لـوري د دغه ولایت په واغظ ولسـوالۍ کـې د ۴.۵ میلیونه افغانیو پـه لګښـت د اوبو یوه شبکه جوړه شوه او ۱۷۴ کورنیو ته د څښـاک پاکـې اوبه برابرې شوې.

د دغه ولایت د کلیو ... ۵مخ



# ترمیم ده‌ها میل سلاح گوناگون در قول اردوی ۲۰۱ خالد بن ولید

شریعت: تیـم انجینیری قول اردوی ۲۰۱ خالـد بـن ولید بیسـت و یـک میل سـلاح مختلف النوع را ترمیم کرد.

دفتر مطبوعاتـی وزارت دفاع ملـی روز گذشـته بـا نشـر خبرنامه‌یی گفت: بر اثر سعی و تلاش تیم مسلکی انجینیری کندک ثقیله لوای سـوم پیاده عبدالله بن مسعود قول اردوی خالد بن ولید؛ ۲۱ نوع سلاح مختلـف النوع دوبـاره ترمیم شد.

این سـلاح ها شـامل ۵ میل ایس پـی جی، شـش ضرب هاوان، ۳ میل دهشکه، ۷ میل پیـکای ام ۴۰ می باشـد که ترمیم شده است.